PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

اتحاد اسلامی

بیانگرآرمان اتحاد اسلامي افغانستان

پرله پسې گڼه «۲۳۰» اوم کال «۳۲» گڼه
دوشنبه د ۱۳۷۰ هـ ش کال دعقرب «۱۳» د۱٤۱۲ هـ ق کال
دربیع الثانی «۲۸» اود ۱۹۹۱ میلاد کال دنومبر «٤»

داسلام مخلص بچیان به هیڅکله پرې نږدي چې دفلسطین داعیه ضایع شي

دفلسطین دخاورې اومسلمان ولس د آزادولو لپاره دعزت لاره دجهاد لاره ده «پوهاند سیاف»

د البنیان خبري آژانس د لږم ــ نعمه :

د افغانستان داسلامی اتحاد امیرمجاهدوررور استاد سیاف د یوی وینا په ترڅ کې د ما درید کنفر انس جوړېدل د فلسطین دبرحقې داعیې ختمول اود یهود نو لپاره د ا منیت تأ مینول وگڼل .

استادسیاف ویلی دی : بیت المقدس د مسلمانانو لومړنی قبله اوفلسطین دمسلمانانوملک دی ، داسلام مخلص بچیان به هیڅکله پرې نږدی چې دفلسطین برحقه داعیه ضایع شی بلکې نن وې که سیاد فلسطین دآزادولواو دیهودانود کیان درنگولولپاره به اقدام کوي .

د افغانستان داسلامی اتحاد امیر په خپله وینا کې زیاته کړیده چې د مادرید کنفرا نس دیهو دا نودتشویش اوپریشانۍ په خاطرجوړشوي اوهدف یې دفلسطین دداعیې ختمول پاتې په ځلودم مخ کې

سفر قریب الوقوع هیئت مجاهدین به مسکو طی محفلی ازطرف قوماندانان وعلماء اتحاد اسلامي افغانستان تقبیح گردید

علماء ، قوماندانان ، مجاهدین ومهاجرین ولایت کابل وحوزه، جنوب غرب مربوط اتحاد اسلامي افغانستان طي محافلي جداگانه اي طرح پنج فقره اي سازمان ملل متحد و سفر هیئت مجاهدین به مسکو ، کنفرانس اسلام آبادوتهران ، ودعوت ازهیئت مجاهدین به ملل متحد را تقبیح ونکوهش نموده وآنراتوطئه جهاني استکباریه سرکردگي روس وامریکا خواند که براي جلوگیري از اقامه حکومت اسلامي درافغانستان به راه انداخته شده است .

درین گردهم آئي ها تعداد زیادي از قوماندانان ، مجاهدین و مهاجرین در تالارشهید غلام محمد نیازي شرکت نموده بودند محفل روزشنبه ساعت ۱۰ قبل ازظهر با تلاوت چند آیه ازکلام الله مجید آغاز شد ودرآن تعدادي از علماء وقوماندانان با ایراد خطابه ها ي جذاب شان توطئه هاي جهان کفر را محکوم نموده و به ادامه جهاد تا قیام حکومت راشد اسلامي درافغانستان تاکید ورزیدند .

درین محفل سید غریب « هاشمي »

آمرنمایندگي هاي اتحاد اسلامي افغانستان طي بیانیه، فداکاریهاو جان فشاني هاي مجاهدین ، مهاجرین و کافه، ملت مؤمن افغانستان را ستوده و آنرا وسیله، مهم شکست کمونیزم درجهان دانسته افزودند : کشورهاي کمونیستي بشمول حکومت هند تمام وسایل جنگي پیشرفته رابه دسترس حکومت کمونیستي کابل قراردادند تا دربرابر مجاهدین ازآن استفاده نمایند ولي با آنهم مجاهدین قهرمان توانستند پیروزي چشمگیري بدست آورند و زمینه اقامه حکومت اسلامي را درافغانستان فراهم نمایند و کمونیزم را درتمام جهان نابود کنند .

آمرنمایندگي ها در بیانیه شان تمام دسایس طاقت هاي کفري و تجاویز اخیر ملل متحددررابطه با مسئله افغانستان رامحکوم نموده و رفتن هیئت مجاهدین به مسکو را نوعي خیانت به این جهاد دانستند .

سپس محمدگل « ناصري » آمر نمایندگي عمومي ولایت کابل ، حاجي شیرعلم آمرعمومي قرارگاه حضرت عمر «رض» و ملاعبید الله یکي ازقوماندانان سروبي نیز ازجمله سخنرانان این محفل بودند.

آنها طي بیانیه هاي جذاب شان خاطرنشان ساختند که رفتن هیئت مجاهدین به مسکو درحالتي که دشمن شکست خورده و ازپادرآمده است ، در حق جهاد و مجاهدین تنازل وبدنامي تاریخي شمرده میشود لذا ما این سفر را بي حرمتي و توهین به این جهاد میدانیم وآنرا شدیداً رد ومحکوم مینمائیم .

ص ع

روس سره داصولو په بنیاد خبرواتروته تیار یو «حکمتیار»

د حزب اسلامی امیر انجنیر حکمتیار شهادت ورځپاڼې سره د یوې مرکې په ترڅ کې په اوسنیو شرایطو کې روس سره د مجاهدینو د خبرو اترو مخالفت کړی دی ویلی ئې دی چې : له خبرو اترونه وړاندې باید مجاهدین یوه گډه فارموله جوړه کړی که چیرې داسې ونه شي ، نوبیا مسکو سره خبرې اترې هیڅ گټه نلری .

بله داچې د خبرو اترو ځای دي د مجاهدینو په خوښه وټاکل شی ، ځکه چې روس لاتراوسه د افغانستان په وینوتوبولوکې دکابل دمزدوررژیم ملاتړکوي پدې اساس د مجاهدینو تگ مسکوته مناسب ندی .

حکمتیار ویلی دی چې : روس ددا یاورهم ورکړی چې : موږد افغانستان د قضیې د حل لپاره یواځې له مجاهدینو سره مذاکره کوو اوددې خبرو اترو نتیجه به واشنگټن ته د منظورې لپاره نه وړو ، ځلورمه داچې خبرې اترې دې صرف د جنگی بندیانو په تبادله کولو پورې محدودې نه وې اودا مسئله دې د خبرو اترو یو جز وگرځول شی .

دریک حمله پیروزمندانهٔ مجاهدین درولایت پکتیا «۲۰» نفرازعساکر دشمن به هلاکت رسیدند

به اساس گزارش آژانس خبری میدیا مجاهدین بروز (۲۹) اکتوبر بالای قرارگاه رژیم ملحد موسوم به مارخوری مستقر درمنطقه، چمکنی که بین ولسوالی های سید کرم و میرزکه ولایت پکتیا موقعیت دارد عملیات نموده که به اثرآن (۲۰) نفر از افراد نظامی رژیم هلاک (۱٤) نفر مجروح یک عراده تانک زرهی ، دوعراده موتر و سه میل سلاح ثقیله تخریب گردید .

منبع میگوید دراین حمله (۱۰) میل کلاشینکوف ، یک میل هاوان و مقادیر زیادی مهمات مختلف النوع به غنیمت مجاهدین درآمده است .

در راپور گفته شده دراین نبرد (۳) نفر ازمجاهدین شهید ویک نفر سرگروپ بنام زرغون مجروح گردیده است .

په هرات کښې ۲۳ تنه ملیشه دخپلو کورونو سره مجاهدینو ته تسلیم شول

په پېښورکې یو جهادی خبرځای د هرات ولایت نه د رسیدلو رپوټونو په حواله رپوټ ورکړ چې د کابل د ملحد رژیم ۲۳ تنه ملیشه د خپلو کورنیو سره د هرات ولایت دادرسکن په ولسوالۍ کې پدې وروستیو ورځوکې مجاهدینوته تسلیم شویدی .

خبرپاتوی ، دغه ملیشه چې دمجاهدینو د اسلامي عفوې څخه په استفادې اودکابل رژیم دقواؤ په صفونوکې د مقاومت د بې ځایه والی په پوهیدوسره مجاهدینو ته تسلیم شویدی (۵۳) میله ووړ ووړ سپکې اودرندې وسلې ، یوه عراده موټر پنځه عرادې موټرسایکلونه د یوې اندازې مهماتو اوخوراکی مواد ،له ځانه سره راوړی اومجاهدینوته سپارلی دی .

دغه رازمجاهدینو داکتوبر په (۲۹) نیټه د هرات دبنار پرامنیتی پوستو ددرندو وسلو څخه په استفادې سره یولړ عملیات ترسره کړل چې په نتیجه کې د کابل د کمونیست رژیم یوه پوسته ویجاړه ، دوه تنه د پوستی ساتونکی مړه ، یوشمیر ټپیان اویوتن بل یې د پنځه میله یوولس ډزو اویوې اندازې مهماتو سره نیولی دی .

د بویل رپوټ له مخې مجاهدینو په نوموړی نیټه ددغه ولایت د زنده جان د ولسوالی په مربوطاتوکې د یوبرید په ترڅ کې د کابل رژیم د قواؤ یوه عراده ټانک اویوه اته سلندره موټر د اورلمبه کړی اودهغوې سپرلې یې وژلی دی . ص ع

مجاهدینو په غورکښې (۳۵) تنه ملیشه اوعسکر وژلي اویوتن قوماندان ئې ژوندي نیولي دي

د میدیا خبری آژانس د غور له ولایت نه رپوټ ورکړ چې مجاهدینو د اکتوبر ۲٦ نیټې پورې په گلو لس ورځنیو تعرضي بریدونو کښې دکابل رژیم د چغچران دکلابند شوی ښار په شاوخوا نظامی تأسیساتو کې د کمونیست رژیم د قواؤنه (۳۵) تنه عسکر ،ملیشه اوصاحب منصبان وژلی اویوشمیر زیات سنگرونه یې ویجاړ کړي دي .

د رپوټ مطابق مجاهدینو پدې پراخو تعرضي بریدونوکې چې دځلوروخواؤ څخه دچغچران په ملیشه اوعسکری پوستوترسره شول د رژیم دقواؤ یوتن قوماندان محمد اسحاق په جگړه کښې بندي نیول شوی اوترمحاکمې لاندې دي .

په الجزایرکې داسلامی قانون دنفاذ په پلوی دمسلمانانو مظاهرې

د الجزایر په مرکز « الجزیره » کې په لکونو مسلمانانو د انتخاباتو پرځای د یو اسلامي ریاست د جوړېدو په پلوې په مظاهر و لاس پورې کې .

پاکستان ورځپاڼې د عیني شاهدانو په قول ولیکل چې په دغو مظاهروکې دري لکو نه زیاتو مسلمانو گډون کړې وو .

د خبرپراساس یوه میاشت وړاندې کله چې په الجزایر کې اظطراري حالت پای ته ورسید دادهغه ځاي د اسلامي ملي جبهې لومړي مظاهره وه .

همداراز مظاهره کوونکو د مسلمانو مشرانوچې دروان کال له پیل نه راپدېخوا د الجزایر د حکومت په لاس زندانونوته د گډوډیو د خورولو په تور وردننه شوي دي ، د ازادېدوغوښتنه وکړه .

دمنځني ختیځ دسولې دکنفرانس لومړی پړاؤ بې نتیجې پای ته ورسید

د امریکی په مشری د منځنی ختیځ په اصطلاح دسولې کنفرانس له درې ورځې خبرو اترونه وروسته بی نتیجې پای ته ورسید .

د اسرائیلو صدراعظم «اسحاق شامیر» کانفرانس ته د خپلو خبرو په ترڅ کی دعربو دنیول شویو سیمو له خوشې کولونه انکار وکړ اوعربی مشرانوته ئې وویل چې که هغوی سوله غواړی نویه تل ابیب کښې دې له اسرائیلو سره مستقیمې خبرې وکړی .

دسوریې د بهرنیو چارو وزیر «فاروق ص ع

به ننگرهارکې دکابل رژیم دبمباریو له امله یو ډاکترشهید اودوه کلینیکونه له مینځه تللي دي

په ننگرهارولایت کی د کابل رژیم د بمباری اوراکټونو د بریدونو په اثر د خیریه مؤسسو یوډاکترشهید او دوه کلینکونه وران شویدی .

د ننگرهارولایت نه «میدیا» ته رسیدلی رپوټونه وائی چی د کابل رژیم جیټ الوتکو د ننگرهار ولایت د بټیکوټ علاقداری په سیمه کې د هلال احمرکویتی ، الاسراء او افغان سرجیکل د اسلامی خیریه مؤسسو دری امبولانسونه د اکتوبر په (۲۹) نیټه د راکټونو د بریدونو لاندې ونیول چی یکی یوتن ډاکټر عبدالجلیل شهید او یوتن ډریور د یو انظباط په شمول ټپیان شویدی .

د رپوټ مطابق د کمونیست رژیم د قواؤ په دې ناځاپی حمله کښې د غازی آباد دکلنیکونو دری امبولانسونه خراب شوی خودجنگ ټپیانواونورو ډاکټرانو ته دسراومال زیان ندی اوړیدلی . ص ع

نیروهاي اسرائیلي براي ششمین روز متوالي مناطق جنوب لبنان را هدف آتش توپخانه قراردادند

نیروهاي اسرائیل وشبه نظامیان طرفدار اسرائیل براي ششمین روز متوالي دهکده هاي جنوب لبنان را هدف آتش توپخانه قرار دادند .

به گزارش رادیو بي ، بي ، سي بدنبال هوشدار مکرر اسرائیل به مردم ونیرو هاي نظامي که فوراً از منطقه خارج شوند ، صدها تن ازساکنین دهکده ها واقع درشمال منطقه ایکه ازطرف اسرائیل حوزه امنیتي اعلان شده است ، منازل خود را ترک کرده وبه نقاط دیگر گریخته اند .

مقامات نظامي لبنان میگوید که ازین منطقه عقب نشیني نخواهد کرد بدنبال حملات چریکهاي طرفدار ایران که هدفهاي اسرائیلي که قبل از آغاز کنفرانس صلح افزایش یافت ارتش اسرائیل حملات خود را به دهکده هاي جنوب لبنان را آغاز کرده است .

سوریه اسرائیل را متهم کرده است که با به وجود آوردن وضعیت تازه درجنوب لبنان قصد دارد کنفرانس صلح شرق میانه را برهم بزند .

دفاریاب په ولایت کښې درشید دوستم اوعبدالرحمن ملیشه ؤ په خپل منځې جگړه کښې له دواړو خواوو څخه «۳۰» تنه وژلي دي

جهادی خبرځای د فاریاب له ولایت نه رپوټ ورکړی چې د کابل د گوډاگی رژیم د رشید دوستم اوعبدالرحمن په مشری ملیشه قواؤ د خلکو څخه د لوټ شویو مالونو په سر یوځل بیا د اکتوبر په (۲۲) نیټه ددغه ولایت د پرشی حق په سیمه کی سره ونښتل چې په نتیجه کې د دواړو خواؤنه (۳۰) تنه ملیشه مړه (۱۲) تنه ټپیان اوهم دواړو خواؤته دراندہ مالی تاوانونه اوړیدلی دی . ص ع

دومین مرحله کنفرانس شرق میانه دیروز درمادرید آغازشد

دومین مرحله، کنفرانس صلح شرق میانه که باسرپرستي امریکا وروس براي نابودي ملت فلسطین روي دست گرفته شده با مذاکرات مستقیم بین اسرائیل وهیئت نمایندگي مشترک اردني وفلسطیني دیروز آغاز شد .

این نخستین بار است که ازیدو اشغالي کرانه غربي ونوار غزه توسط اسرائیل بعد ازجنگ ۱۹٦۷ میلادي مذاکرات رو بارونې بین نمایندگان اعراب واسرائیل صورت میگیرد .

رادیو بي ، بي ، سي روز شنبه گزارش داد که پس از ـــ چهل وهشت ساعت بحث ومناقشه پیرامون مسأله مذاکرات سرانجام موافقت شد که این مذکرات روز یکشنبه صبح درنقاط مختلف شهر مادرید آغاز شود

درمادرید گفته شد که نخستین مذاکرات بین نمایندگان لبنان ونمایندگان اسرائیل وهیئات مشترک اردني وفلسطیني صورت گرفت .

درولایت لوگر یک عراده تانک ٦ عراده وسایط نقلیه دشمن بامحوله هاي نظامي آن طعمهٔ حریق گردید

به اساس گزارشهای واصله مجاهدین بروز اول نوامبر بالای پوسته های امنیتی ولایت لوگر حمله نموده که درنتیجه آن یک عراده تانک زرهی ، (٦) عراده وسایط نقلیه نظامی و یک دیپوی مهمات نظامی حریق گردیده است .

منبع علاوه کرد، دراین عملیات که درمنطقه « باغکی » صورت گرفت یک نفر مجاهد شهید گردیده است .

طبق یک خبردیگرمنبع مذکور ، رژیم کمونیست کابل بتاریخ ۳۰ اکتوبر ولایت لوگر قریه شیخان وقلعه عباس را هدف سلاح ثقیله قرارداده که به اثرآن یک نفر مجاهد به مقام شهادت نایل گردیده است .

(۸) نفر خادستان دریک حمله چریکي مجاهدین درولایت کابل به هلاکت رسیدند

آژانس میدیا به نقل از یک منبع جهادی گزارش میدهد که بروز (۲٦) اکتوبر در کلوپ مطبوعات درچمن حضوری یک بم دستی ازطرف مجاهدین دریک محفلی عروسی کمونیستان پرتاب گردیده که درنتیجه (۸) نفر ازخادستان هلاک گردیدند .

گزارش می افزاید بعداً رژیم مزدور کابل برای دریافت شخص مذکور به جستجوی همه جانبه پرداخت که به اثرآن یک نفر مجاهد بنام محمد عثمان ولد قیام الدین با دو عدد بم دستی دستگیر گردیده است .

هفته‌نامه
اتحاد اسلامی
بیانګر آرمان اتحاد اسلامی افغانستان
د امتیاز خاوند : د افغانستان اسلامی اتحاد
د تأسیس نیټه : ۱۳٦٤ کال د عقرب میاشت
خپرونکې اداره : د دعوت اوارشاد فرهنګي څانګه

حساسه مرحله

له څوارلسو کلونو راهیسې دافغانستان مؤمن ملت په جهاد بوخت دی چې تر اوسه هیڅ ځنډ او وقفه په کښې نده راغلې،داسې کومه ورځ اوشپه نه ده تیره شوې چې دوحشي دښمنانو له خوا کورنې دخپلو شهیدانو په غم نه وي ژړېدلې ، ګولۍ دړلیو غوندې نه وي اورېدلې او دیاروتو لوخړې نه وي پورته شوې که په یوه ګوښه کښې څه مؤقتي ګراري راغلې وي نو په نورو ګوښو او سیمو کښې تاتار جوړشوی او خلك ددرندو مصیبتونو سره مخامخ شوي دي چې په دې توګه تراوسه پورې له شپاړس لکونه زیات مسلمانان شهیدان شوي دي اولا دغه لړۍ روانه ده .

بل پلو ته له پنځو ملیونو څخه زیات مسلمانان له خپلو کورونو او جایدادونو څخه په هجرت کولو اوګاونډیو یا لیرې هیوادونو ته په تلو مجبور شوي دي چې هلته دبیوسۍ او پردیسۍ ژوند تیروي .

دیتیمانو ، کونډو او معیوبینو حالت هم دومره دردوونکی او ځوروونکی دی چې هیڅ با احساسه اوباضمیره انسان یې دیوې شیبې له پاره له پامه نشي ویستلی .

ددې ټولو درندو قربانیو په مقابل کښې چې زموږ مؤمن او اتل ملت ته دلوی خدای په فضل څه په برخه شوي دي ، په ډیر ویاړسره دیادوني وړ دی هغه داچې الله تعالیٰ ددې تش لاسي او بې وسیلې ملت په لاس دنړۍ لوی وحشي شیطاني طاقت نه داسې ماتې ورکړه چې په ټوله دنیا کښې یې شیطاني طلسم دړې وړې او ترغې ، ترغې شو یا په بل عبارت له دوطاغوتي طاقتونو څخه یو دنیستي اونابودۍ په سیند لاهو شو ، زموږ هر وروستی پړاو دمخکني پړاو نه غوره او ددښمن هر دویم پړاو له لومړي پړاو نه بد تر او دردوونکی دی .

موږ قدم په قدم دهدف خواته مخ په وړاندې لاړو او دښمن دهلاکت او ذلت خواته . اوس دلوی خدای په خاص فضل هدف ته نژدې شوي یو او په عین حال کښې په یوه حساسه مرحله کښې واقع یو چې له بل هر وخت نه زیاته هوښیاري اوځیرکي غواړي .

داد اوږده جهاد دنتیجې او ثمرې را ټولولو پړاو دی ، هغه پړاو چې که لږ اشتباه په کښې وشي نو نه تلافي کېدونکي زیانونه رامینځ ته کوي . داسلام دښمنان ددغه پړاو نزاکت ته ډیر زیات متوجه دي او ټولو په خپلو مینځو کښې دهمکارۍ لاسونه سره ورکړي دي او خپلې ټولې دسیسې یې په کار اچولي دي ترڅو وکولای شي په افغانستان - دغه دشپاړس لکو شهیدانو په وینو رنګ هیواد - کښې داسلامي نظام دقایمېدو مخه ونیسي او دسیاسي حلونو تر پردې لاندې بیطرفه یا مخلوط حکومت رامینځ ته کړي چې نور هرڅه ولري خو یوازې داسلامي نظام دانفاذ طمع ورڅخه ونشي .

دغه شوم شیطاني مقصد ته درسیدو له پاره دژنیو دغونډو او کله ماسکو - دظالم او سفاك دښمن کور - ته دمجاهدینو دهیئت دورتګ دامونه غوړول کېږي خو الحمد لله چې زموږ مجاهدین ، چاچې په تېرو څوارلسو کلونو کښې خپلې ګرمې وینې په تلې کښې نیولې او دحق سنګرونه یې پیاوړي ساتلي دي ددغې مرحلې حساسیت او نزاکت ته پوره متوجه دي ، دمختلفو ولایاتو مجاهدینو او قوماندانانو ددرندو غونډو جوړولو اوپه هغو کښې دقطعنامو په صادرولو سره روسیې ته دمجاهدینو دهیئت تګ محکوم کړ اوله جهادي اړخونو څخه یې غوښتنه وکړه چې په خپل دغه تصمیم کښې تجدید نظر وکړي اوخپله لمن ددغه تاریخي ذلت له داغ څخه پاکه وساتي .

هو ! روسان زموږ دملت قاتلان دي ، روسانو زموږ ښکلی وطن وران کړی اوپه کنډرو او کنډوالو یې بدل کړی دی ، روسانو زموږ اقتصاد تالا کړی دی ، دروسانو دوحشیانه ظلمونو دلاسه زموږ پنځه ملیونه خلك په پردیو هیوادونو کښې دپردیسۍ او بیوسۍ ژوند تیروي ، دروسانو دظلمونو له کبله په زرګونو اولکونو یې اسرې کونډې اویتیمان ناست دي اوپه زرګونو معیوبین دپه درګرځي او دژوند له خوږونه محروم دي موږ په کوم استدلال دهغو کورته ورشو ، دا ورتګ به دتنواتي او عذر معنا نه لري ؟ په دې ورتګ سره به روسان له موږ سره داومنې چې زموږ دسر اومال خساره راکړي ؟ روسان به له موږ سره داومنې چې موږ په افغانستان کښې دمجاهدینو په لاس دمجاهدینو دخوښې اسلامي نظام قایم کړو . که داخبرې منل کېږي نو ددې لومړی شرط خو دادی چې دنجیب دمزدور رژیم له سیاسي او نظامي حمایت نه لاس واخلي او دویم شرط یې دادی چې مجاهدین په رسمیت وپیژني هغه کسان چې دافغانستان اصلي وارثان دي اودافغانستان دازادۍ له پاره یې بې شمیره قرباني ورکړې دي . له روسانو څخه ددې یوې خبرې هیله نه کوو اونه کیدای شي داځکه چې دنجیب ددهري اوملحد رژیم دحمایت له پاره همدا اوس هم هره ورځ په خوراکي او حربي وسایلو بار دروسي موټرو کاروانونه راروان دي اوهره ورځ دافغانستان پرمسلمان ملت باندې دروسي بمونو باران اوریږي .

په داسې شرایطو کښې به هیئت دخپل تګ له پاره څه مبرر او قناعت بښوونکی توجیه ولري ؟ نه ! هیڅ شرعي اوسیاسي توجیه او استدلال نشته .

زموږ مشکل دسپینې ماڼۍ او کریملین په دروازو کې نه حل کېږي ، بلکې هغوته مراجعه ذلت دی . دمشکل دحل کیدو پرتمینه او عزتمنه لاره په خپلو مینځو کښې دمجاهدینو اتحاد او دصفونو یووالی دی . دښمنان موږ ته زموږ دعزت اوکامیابۍ لارې نه راښیي بلکې دذلت لارو ته مو راکاږي او غواړي چې دجهاد ګټلی میدان دسیاسي میز پر سر رابانډې وبایلو . دښمنان غواړي په افغانستان کښې داسې یو حکومت رامینځ ته کړي چې دپخوا په شان دهغو ګټې خوندي وساتي او دهغو دمفکورې اوسیاست ښکیل وي اوچا چې په خپلو وینو داوطن ازاد کړی دی دهغو وارثان اویتیمان دذلت په حالت کښې دهغو دروازو ته ودریږي !!

په هرحال زموږ مجاهدین پوره ویښ او بیدار دي ، هیڅ کومه فیصله او تصمیم چې دجهاد دلوړو اهدافو پرخلاف وي ویه یې نه مني او هیچا ته به دامجال ورنکړي چې دشهیدانو په وینو اودمجاهدینو په ابرو او عزت تجارت وکړي .

ماکیستیم وچه میخواهیم؟

بقلم استاذ سید قطب
ترجمه : عبدالحق « عتید »

امروز کمیته هاي مختلفي اساس آینده، مردم این کشوررا تهداب گذاري مي کنند، درینجا کمیته است براي قانون ، وکمیته ایست براي طرح سیاست تعلیم وآموزش ، وکمیته ایست براي رشد اقتصاد ملي ... همه این کمیته ها ضرورت دارند تا اولاً به این سوال پاسخ دهند که ما کیستیم و چه میخواهیم ؟؟

این کمیته هاي قبل ازشروع دراتخاذ هرنوع سیاستي ویا هرنوع پروژه ویا هرقدمي دیگر نیازمند ارائه جواب به این سوال است . زیرا وي در روشنائي پاسخ به این سوالات امکان آن را درخواهد یافت که جواب خو درا چگونه مشخص سازد ، ونقشه خود را چطورترسیم نماید . واساس پروژه راکه او درنظر دارد تهداب گذاري کند ، چون ارائه جواب به این سوال ، در نوع سیاستي که آنرا پیروي خواهد نمود ، وپلان وپروژه راکه روي دست خواهد گرفت تأثیري بسزاي خواهد گذاشت .

ما باید ازخود بپرسیم که ما کیستیم ؟

آیا ما مردمي هستیم که در وراء عرض خط ۲۳ در عزلت قرارگرفته ایم ؟

آیا ما ملت هستیم که حدود آن را دریاي نیل تعیین مي کند ؟

آیا ماملت عرب مصري هستیم که روابط عربیت ما را باملت عرب پیوند داده است ؟ ونوعیت این روابط چگونه است ؟

آیا ما ملت مسلمان عرب مصري هستیم که روابط اخوت اسلامي ما را با جهان اسلام پیوند داده است ؟ ونوع این روابط چگونه است ؟

این سوالات ازناحیه جغرافیاي وبین المللي مطرح خواهد شد .

وعین سوالات نیز از ناحیه اجتماعي هم مطرح خواهد گردید .

آیا ما مردم هستیم که زندگي ما بر اساس نظام سرمایه داري بنا یافته ؟

یا آنکه ما ملت هستیم که زندگي ما بر اساس مارکسیزم واشتراکیت بناء یافته است ؟

یا آنکه ما ملت مسلمان هستیم ؟

اینها همه مکتب ها ومذاهبي اند اجتماعي ، وداراي نقشه هاي اساسي وخصوصیت ها ونمودهاي علیحده . وهرکدام ازین خصوصیت ونمود ها درمشخص ساختن نوع حکومت ومعامله، آن درتوزیع ثروت ، ودررابطه، تولید ، ودروضع برنامه، تعلیم وتربیت ، ودراندیشه وقانون گذاري ومصادر قانون گذاري اثر خاصي دارد .

در روشنائي این مطالب اگر ما بخواهیم ساختمان کشور را - بدون مشخص ساختن نقشه هاي اصلي واساسي آن - از سر گیریم، وخود را ازنوعیت وطن که تلاش داریم تا آن را پي ریزي نمائیم ، ونوع اجتماعي راکه سعي میکنیم تا آنرا روي کار سازیم ، ونوع اندیشه وطرز فکر راکه آنرا براي اجتماع لازم مي پنداریم آگاه نسازیم . کوشش براي اعاده، چنین کشور ، بدون درنظر داشت این امور کار بیهوده وعبث خواهد بود .

زیرا کسیکه بخواهد خانه، را تهداب گذارد ، تاوقتیکه آنرا درچوکات هندسي آن پي ریزي نکرده است ، به کار آن آغاز نمي کند ، چه رسد به کسیکه بخواهد کشوري را اساس گذارد ویا ملت را به تربیه گیرد وآینده، را براي آن ترسیم نماید !

اگر ما بخواهیم که حد ومرز براي سیاست سازش کارانه که ازخصوصیت هاي دوران گذشته بوده بگذاریم ، وتوسط آن دوران نوین را با برداشت تازه، مشخص سازیم . به خاطر این هدف ، ارائه جواب به چنین سوال ضروري پنداشته شده ، زیرا این امر حیثیت سنگ زاویه تهداب را دربناء آینده اجتماع دارد .

این یك حقیقت ، وحقیقت دیگر که قابل توجه ودرخور اهتمام آنهائیکه میخواهند به این سوال پاسخ گویند اینست که واقعیت عیني وثابت اجتماع این کشور را ازنظر دورنه پنداریم وآنرا نادیده نگیریم ، ونا دیده انگاشتن چنین واقعیت دور از حکمت وتدبیر است ، زیرا نادیده گرفتن آن درواقع تصادم وبرخورد باطبیعت اجتماع است ، چون این ملت داراي طبیعت معین وتاریخ معین وعقاید معین وفلسفه معین ، وبینش معین براي زندگي است ، پس وقتي بخواهیم به چنین سوال جواب دهیم نباید این خصوصیت ها را نادیده گیریم ، ونباید سعي کنیم تا فلسفه ملت اجنبي وبیگانه را براي این ملت تحمیل نمائیم ، این بدان جهت که وظیفه قانون گذار وباطراح سیاست اقتصادي این نیست که عقاید وافکار وفلسفه ها ونظریه هاي شخصي خودرا برملت بقبولاند ، بلکه یگانه وظیفه وي این است تا شخصیت اصلي این ملت وتصور خاص به آن را درزندگي وقانون ، ودرسیاست هاي تعلیمي واقتصادي اش تحقق بخشد .

ونادیده گرفتن این حقیقت - هرچند نظریات که عملي شدن آن درجامعه سودهاي را بدنبال داشته باشد ، جزاینکه مصیبت هاي رابار آورد سودي نخواهد داشت ، زیرا نیرو هاي نهفته درکیان ملت باید بکار افتد . وتلاش براي سرکوب ساختن این نیروها و یا واداشتن آن به عمل که ضد خواسته وي است جز تصادم وبرخورد میان این نیروها ، ونظریات بیگانه که عملي شدن آنرا برجامعه لازم مي گرداند ، فائده نخواهد داشت .همچنان نادیده انگاشتن واقعیت ثابتي درزندگي این ملت جز آنکه با اعراض وتنفر شدیدمردم رو برو گردد ، ویا میان ضمیر ملت وحکام که وظیفه، رهنمود وتنفیذ را بعهده دارند فاصله، ایجاد گردد بهره، بیار نخواهد آورد . ودرین امر هیچگاه براي زمامداران ویا محکومین فائده ومصلحتي متصور نیست ، اما اگر قبل ازآغاز به کار چنین پروژه ها ، لازم بود که اولاً کمیته هاي قانون گذاري یا تعلیم وتربیه ویا اقتصاد ویا سایر پروژه هاي دیگر ، این سوالات را پیش خود مطرح وبرآن جواب ارائه میداشت ، وبعد به پیاده ساختن آن اقدام مي کرد ، درانصورت مي توانست که ازعهده، آن موفقانه بدر آید ، زیرا حقوق اساسي درقانون ، ویا جهت بخشیدن سیاست تعلیم وتربیه ، ویا پیاده ساختن پروژه هاي اقتصادي ، این همه بصورت قاطع علاقات وپیوند هاي سیاسي درمیان اعضاي یك ملت به اعتبار اینکه قانون است که آنرا کیفیت مي بخشد وجهت میدهد .

این پیوند ها وارتباطات به مذهب اجتماعي که دولت بدان معتقد است سخت تأثیر دارد . به اعتبار اینکه تربیه یگانه وسیله، است که فرد مناسب را براي اجتماعیکه نوعیت آنرا خود تعیین مي کند آماده مي سازد . وبه اعتبار اینکه سیاست اقتصادي جز تطبیق عملي سیاست اجتماعي چیزي دیگري نیست .

شاید این کمیته هاي مرکزي بدین گمان بوده باشند که میتوان این نقطه اساسي راندیده گرفت ، وبکار خویش ادامه داد و بعداً این سیاست را پیاده کرد . اما این تصور ، تصور ساده وغیر عملي است ونتیجه، معکوس بارخواهد آورد وبه هیچ وجه با اهمیت کاریکه این کمیته ها دارند سازگار نخواهد آمد .

زیرا شروع وآغاز نمودن به همه بحث ها پیش ازتثبیت نوعیت حکومت وطبیعت مردم وصبغه اجتماع که این سیاست را باید دران پیاده ساخت از امکان بدور است زیرا هرچیز را میتوان ازخارج وارد ساخت مگر این خطوط پهناور راکه باید ازواقعیت زندگي مردم سرچشمه گیرد . نمیتوان با پیشه کردن ازین جا وآن جا به آن سودي بخشید ، ونمیتوان آنرا ازخارج وارد ساخت .

این کمیته ها هنوز درآغاز راه اند وبراي ایشان بهتر این خواهد بود که آنچه راکه تاکنون درك نکرده اند دریابند . وباید این کمیته ها حقایق را به شجاعت ومردانگي واخلاص ودور ازهوا وخواهشات نفسي بپذیرند ، بخاطر آنکه مستقبل وآینده این ملت درخور آنست که هر انسان ازهواي نفسي خود دست بردارد ، ودرین مورد فیصله را بعهده طبیعت آن ملت وواقعیت حالت که درآن حیات بسر مي برد بگذارد، واقعیت که نمیتوان ازآن انکار نمود .

این حرفیکه ما برزبان مي آوریم یك واقعیت عیني وبدیهي است ، ودرست نیست که در مورد این امر بدیهي به ارائه دلیل بپردازیم . اما وقتیکه بدیهات درین کشور نیازمند قبول ورد ، ویا بحث ومذاکره طولاني باشد ما چه میتوانیم بکنیم جز اینکه به این بدیهیات دلیل ارائه نمائیم .

دترکیې وروستیو انتخاباتو ته یوه څغلنده کتنه

۲- داسلامي تحریکونو وده اوپیاوړتیا

په تېره ګڼه کښې مو په وروستي نیمه پېړۍ کښې د ترکیې د ټولو سیاسي پېښو دوه مشخص دورونه وڅېړل اوپه هغوکښې مو د کمال آتاتورك دواکمنۍ دوران اوبیادسیاسي ډلو تپلو د اختلافاتو دوران تشریح کړ اوس په دې ګڼه کښې غواړو په ترکیه کښې د پوځي کودتاګانو الهیزي تربحث لاندې ونیسو اوبیا وروسته په دغه اسلامي هیواد کښې د اسلامي حرکتونو دبریالیتوبونو اوغښتلتیا عوامل وڅېړو .

۳- د حکومت په اداره کښې د پوځیانو رول :

کله چي د ۱۹۸۰ میلادي کال د سپتمبر په ۱۲ جنرال « کنعان اورن » د یوې پوځي کودتا په ترځ کښې قدرت ترلاسه کړ زیاترو سیاسي مفسرینو دغه بدلون د ترکیې په سیاسي صحنه کښې د پوځیانو د لاس وهنو تاریخ ته په توجه سره ، د پخوانیو بدلونونو د زنځیر یوه کړي وبلله خو حقیقت داؤ چي دغه بدلون په سیمه کښې د وروستیو انکشافاتو اوتحولاتو لکه د ایران انقلاب اوپه افغانستان باندې د شورویانو دیرغل په وړاندې د امریکا عکس العمل ؤ .

د امریکا دغه اقدام کولاي شو په درې بنسټیزو محورونو کښې خلاصه کړو :

۱- د سیمې په امریکا پلوو هیوادونو کښې د پوځي ښتون تقویه .

۲- په اسلامي هیوادونو کښې اسلام ګروهنې سره مبارزه .

۳- د مخالفو حرکتونو دټکولو له لارې دپېیلو رژیمونو دسیاسي حاکمیت تثبیت .

د نړیوال استکبار نوې استراتیژۍ ، ترکیې ته دغربیانو د ځانګړي پاملرنې غوښتنه کوله ځکه چي دغه هیواد کولاي شو د دارد انیل اوبسفر په استراتیژیکو کانالونــــــــو مدیترانې اوتورې بحیرې په اوږدو ساحلو باندې دکنترول او آسیا او اروپا ته ددغه هیوادارتباطي رول اوخاصواقلیمي شرایطو له امله دغرب د پوځي ځواکونو هراړخیز ښتون تأمین کړي .

په ۱۹۵۲ میلادي کال کښې د غرب په سترپوځي تړون یعني ناتوکښې ددغه هیواد غړیتوب ، تربوې اندازې د غرب غوښتنوته د عمل جامه ورواغوستله خود امریکا له پاره په ناتوکښې د ترکیې غړیتوب دومره زیات قانع کوونکي نه ؤ داځکه چي لومړي خودا تړون ظاهراً دفاعي ؤ او دویم داچي په بحراني حالاتو کښې د امریکا د غوښتنو سره د تړون د نورو غړیو مخالفت ددغه هیواد په ګټه نه ؤ .

امریکا ددغه خلا د ډکولو اوزیاتوعملي امکاناتو د لاس ته راوړلو له پاره د سیمې له هیوادونو بالخصوص ظاهراً اسلامي هیوادونو سره پوځي تړونونه اوقراردادونه لاسلیك کړل څودمسلمانانو ملتونو د هردول جدي خطرونو د احساس په صورت کښې خپل شوم اوناولي مقاصد عملي کړي .

په همدې اړه د امریکااوترکیې ترمینځ لومړي نظامي اواقتصادي تړون « دي . اي . سي » د ۱۹۸۰ میلادي کال د دسمبر په میاشت کښې یعني په ترکیه کښې د جنرال کنعان اورن له کودتانه یوه میاشت وروسته د دواړوهیوادونو د مقاماتو ترمینځ په ډېره بېړه لاسلیك شو .

نوموړي تړون امریکایانوته دا امکان ورپه برخه کړ څو په ترکیه کښې له یوې خوا په ناټو پورې د مربوطو پوځي تاسیساتو او اډو څخه استفاده وکړي اوله بلې خوا د نویو پوځي اډو په جوړولو سره په اسلامي حرکتونو باندې د محاصرې حلقه تنګه کړي اوله بلې خوا د خپل سیال هیواد شوروي اتحاد د پوځي حرکاتو د کنترول زمینه هم برابره کړي .

په ۱۹۸۰ میلادي کال کښې د جنرال « کنعان اورن » له کودتا نه وروسته په ترکیې کښې دغرب د نظرور دیموکراسۍ دوه پړاوونه ووهل . لومړي د ۱۹۸۳ کال انتخابات ؤ چي په هغو کښې د « تورګوت اوزال » نوې جوړشوې ګوند د « مام وطن » قدرت ته ورسید اوپخوانۍ سیاستمداران له هغې جملې نه د « سلیمان دیرل » او « بولنت اجویت » چي کولاي شول د اوزال له پاره غټ رقیبان وي له فعالیت نه منع شول .

دویم د سیاسي فعالیت د ممنوعیت لغو کول ؤ چي په دې توګه د ترکیې پارلمان هغو سیاست مدارانو ته د فعالیت اجازه ورکړه چي له کودتا نه مخکښې منع شوي ؤ .

د ۱۹٦۰ او ۱۹۷۱ میلادي کلونو کودتاګانې سره له دې چي د مخالفینو د ټکولو اودهغه وخت د نظامونو له پاره د سیاسي فضا د مساعدولو په ارتباط د پخوکلونو په ترځ کښې بریالي وې خوبه فرهنګي ، سیاسي اواقتصادي ډګرونو کښې دنویو حکومتونو کمزوریا ددې سبب شوه چي په خلکو باندې ددیکتاتورۍ د اعمال الغیزه کمه کړي اوپه نتیجه کښې د سیاسي مجددو فعالیتونو په بیا پیل کېدو سره د نویو کودتاګانو د پېښېدلو له پاره زمینه برابره شي .

د کودتا لومړۍ دوره (۱۹۸۰ - ۱۹۸۳)

د ۱۹۸۰ میلادي کال د سپتمبر د ۱۲ کودتا دپخوانیو کودتاګانو پرخلاف اقتصادي ، سیاسي اوفرهنګي پلانونه له ځان سره درلودل په داسې توګه چي کولاي شو دغه کودتا « دپوځیانو سیاسي کودتا » ونوموو .

د ۱۹۸۰ او۱۹۸۳ میلادي کلونو ترمینځ د نظامي حکومت اقتصادي پلانونه چي د ترکیې لومړي نوي سیاسي دوره شمېرل کېږي په ګډه د امریکا د مالي محافلو ، د نړیوال بانك اود پیسو د بین المللي صندوق لخوا تأمین کېدل . چي بیا وروسته دغه مرستې دجنورې د ۲٤ په مالي طرحو باندې مشهوري شوې .

په دې اساس د ترکیې د حکومت مقاماتو د غرب د فاسد استثماري فرهنګ د ترویج له پاره ددغه هیواد د اسلامي اوفرهنګي ارزښتونو له مینځه وړلوته ملاوتړله اوپه دې توګه په سیاسي دګرګنې هم د پوځیانو دحالت ته ښه زمینه برابره شوه . هماغه ؤ چي د ۱۹۸۰ میلادي کلونو په ترځ کښې ٤٤١١٧ ته ونیول شول . ټول سیاسي ګوندونه منحل اعلان شول اوپه دې توګه په سیاسي ګوندونو اوسازمانونو باندې د ۱۲۰ کلنو (۱۸٦۰-نه تر ۱۹۸۰) ارزښتونو واکمنې پای ته ورسیده اود نویو سیاسي ګوندونو له پاره چي دکولاي شي د نوي نظام له پلانونو سره همآهنګي ولري لومړي قدم پورته کړاي شو .

نوي اساسي قانون په ۱۹۸۲ میلادي کال نوامبر په ۷ نېټه د یوې عمومي رأیه ګیرۍ په ترځ کښې تصویب شو اوجنرال کنعان اورن د نوي جمهور رئیس په توګه وټاکل شو . کنعان اورن ملحې هرډول سیاسي فعالیت ممنوع اعلان کړ اوضمناً کمونیستي ډلې یې هم غیرقانوني وګرځولې .

دوهمه دوره (۱۹۸۳ نه تر ۱۹۸۷)

ترکیه په ۱۹۸۳ میلادي کال کښې ، دګوندونو د

نقش نویسندگان مسلمان در مسیرانقلاب اسلامی افغانستان

بقلم : عبدالرقیب « جهید »

به همه هویداست که ملت مسلمان وجامعه، افغاني ازسالیان درازي بدینسو تحت نظام هاي جاهلي وفاسد شاهي مشروطه وارتجاع سلطنت وجمهوریت والحاد ودهریت ازساحه، علم ودانش وتمدن وانکشاف دور نگهداشته شده اند وابرهاي ظلمت و فساد اداري وبربریت مطلقه حکام وقت پرده هاي ضخیم را برفراز مشعل علم ودانش ومعرفت گسترانیده بود واوضاع کشور واحوال ملت به سوي ضلالت ونابودي کشانیده مي شد وبرین قیاس در امور اجتماعي سیاسي وفرهنگي کشور جاهلیت قرن بیستم ومتود هاي فکري وفرهنگي استعمار نوین حاکمیت داشت تا آنکه دست پروردگان ومزدوران روس باسازماندهي باندهاي الحادي وشیطاني خلق وپرچم در اثر حمایت مستقیم رژیم عمال سلطنتي دست به کودتاي خونین وفاجعه هاي درد ناك زده و زمام حکومت را بدست آوردند وبزرگترین جنایات را برملت مسلمان وسرزمین اسلامي ما بار آوردند .....

بعد ازآغاز مبارزات اسلامي وجهاد مسلحانه همگام با اوجگیري قیام هاي سرتاسري اسلامي انقلاب عظیم اعتقادي وفکري بوقوع پیوست وپیوسته با عملیات نظامي مجاهدین مؤمن وهدفمند برتأسیسات دولتي ومراکز الحادي فعالیت هاي فرهنگي ومطبوعاتي منظم وهم آهنگ درمیان اقشار ملت اوج گرفت وازآن زمان تاکنون ادامه دارد ویك انقلاب کامل عیار مبارزه، فرهنگي در برابر فرهنگ روسي واستعماري تشکیل یافت که ازین موضع قاطع مبارزه، فرهنگي مسلمانان وبویژه نویسندگان متعهد اسلام قلب ناپاك دشمنان دین وعقیده وآزادي را شگافته وبه سطح جهاني استعمار شرق وغرب را دچار شکست وواژگوني حتمي مواجه نموده است

نویسنده، مسلمان ومتعهد وهدفمند درواقعیت آموزگار ومرشد اجتماع اسلامي است ورهنمائي افراد اجتماع را، اعم از پیر وبرنا ، مرد وزن بدوش دارد وبصورت غیر مستقیم نقش مسئولیت بار تاریخي وانقلابي خود را درراه اصلاح اولاد جامعه ونسل هاي آینده انجام میدهد چه همه نبشته ها ومقالات علمي ، انتباهي ، فکري وسیاسي ودرمجموع همه تلاشها وعرق ریزي هاي نویسندگاه بادرد وبیادرك اسلام وجهاد درصفحات زرین تاریخ انقلاب اسلامي کشور ثبت شده وتاجهان است ازخاطره، جهانیان فراموش نمي شود وچون مشعلي فروزان درمسیر فرزندان مکتب انقلاب اسلامي جاودان وتابناك باقي میماند هرگاه اهمیت مبارزه، اهل قلم ونویسندگان ودانشمندان مؤمن ومجاهد نقش سازنده وچشمگیري را درراه تشکیل جامعه، انساني واسلامي داراست پس مي بایست نویسندگان مؤمن ومجاهدما درساحه، تعمیم ادب وفرهنگ اسلامي واصطلاحات اسلامي وجهادي مسئولیت تاریخي و مکلفیت ديني وشرعي خود را انجام دهند وبرعلاوه، اینکه اثر نویسنده، دردمند وهدفمند درنزد پروردگار یکتابي همتا مستحق اجر وپاداش میگردد درزندگي دنیوي نیز عطایاي بیکران الهي نصیب این جانبازان سنگر معنوي جهاد مي شود مشروط برانیکه نویسندگان مؤمن ما با اخلاص واردات ، ظرافیت وطهارت ، بابصیرت نیکو پیروانه، ادب باوجد وطرب گلواژه هاي معارف الهي رابدون کم وکاست ونقص گزاف خیانت واهانت درخدمت انسانیت وجامعه اسلامي قراردهند وعدالت را درکتابت که مقتضي به تقوي نویسنده میشود جداً رعایت نمایند وازنوشتن ضایع کردن وقت طلائي خود درموارد مطالب غیر مطلوب وشرارت انگیز وبطور عموم ازکوچکترین خلاء ونفاقیکه درمیان طوائف اسلامي بار آور مي شود سخت خود داري ورزد چه نوشتن قبایح وهجو وشتم وتحقیر وافتراء وبهتان ودروغ درسلسله، نگارش فرهنگ اسلامي جرمي است عظیم ومجازات نویسنده، آن دوچندان میگردد چه جرمي را درگفتن مرتکب شده وجرم دیگر که آنرا درقید قلم مي آورد وبراي جاودان درمطبوعات وصحایف جهادي باقي مي ماند وانکار ازآن هم به هیچ وجهي متصور نیست ودرحقیقت نامه، اعمال خود را خود نویسنده سیاه میگرداند وازین نکته دقیق

دافغانستان دعلماوو شرعي فتوى

دافغانستان جهادي الله جلت عظمته د ټوم دا و چټولو دیو بشپړ حکومت
د جوړولو او د دغه مسلمان او مجاهد ولس او يت او عزت د خوندي کولو
په خاطر دوار شوي دي نو موږ په صريح کله په يو غير اسلامي نظام کې چه
ليوميا مختلط وي او که بل ټوم ولري قانع نه شو او هغه نظام چه روس
او امریکې په توافق جوړيږي حقه حقيقه اسلامي نظام گڼلي نه شي
او په داسي حال کې چه د روس د امداد اوس هم د کابل ملحد نظام سره
جاري دي او موږ شپارس تکه بيگناه مسلمانان يې وژلي دي او ټول
هلك يې تخريب کړي دي او د دي ولس ناميس يې پامال کړی دي او روسانو
کور ته ورتگ بې عزتي بولو . او بيا په داسي حال کې چه روسانو سره د [illegible]
[illegible] والسلام على من اتبع الهدى

[illegible]

در دانشگاه مسكو نيز عمر كمونيزم به پايان رسيد

ساختمان دانشگاه دولتي مسكو كه محل تدريس آيديولوژي كمونيزم بشمار ميرفت ، اكنون ارزش خودرا ازدست داده و حكومتي كه آنرا اداره ميكرد نيز ازبين رفته است .

استادان اين دانشگاه اكنون تدريس درسهاي ازقبيل تاريخ لامذهبي راكنار گذاشته و بجاي آن تاريخ اديان را تدريس مي كنند .

استاداني‌كه خودرا كارشناسان كمونيزم مي خواندند ، اكنون به عنوان دانشمندان علوم سياسي فعاليت مي كنند .

نشريه امريكايي « نيويارك تايمز » طي مقاله اي در باره « مرگ كمونيزم در دانشگاه مسكو » نوشت : « دستور العملي براي نوسازي سيستم مديريت دانشگاه تدوين شده ولي آناتولي لوگونف رئيس دانشگاه مذكور كه از ١٤ سال پيش دراين سمت باقيمانده است ، ازتصويب آن خود داري مي كند » .

وي كه ازسوي « ميخائيل سوسلف » آيدیالوگ حزب كمونيست شوروي در دوران پيش ازگورباچوف منصوب شده است ، دربرابر درخواستهاي روز افزون محصلين براي تقاعد مقاومت مي كند ولي انتظار ميرود ظرف چند ماه آينده متقاعد شود . به اساس گزارشهاي آژانس هاي بين المللي ازنيويارك « لوگونف » درجريان كودتاي شكست خورده عليه گورباچوف درحالت مرخصي به سرمي برد و معاونين اونيز هيچگونه بيانيه اي درمورد تحولات مربوط به كودتا صادرنه كردند و اين يكي از دلايل دل گرمي بعد ازوقت « لوگونف » به شمار ميرود .

دانشگاه دولتي مسكو در رأس سيستم تعليم عالي شوروي در دوران حكومت كمونيستها قرارداشته و ساختمان آن يكي ازهفت ساختمان معروف با سبك معماري دوران استالين درمسكو است .

محصلين دانشگاه را كمونيستهايي كه ازسوي حزب كمونيست معرفي مي شدند ، تشكيل ميدادند و گورباچوف نيز يكي ازاين محصلين بوده است . برخي استادان و محصلين اين دانشگاه كه اخيراً مورد مصاحبه واقع شده اند تاكيد كرده اند كه محصلين مايل به فراگيري آيديا لوژي كمونيستي نيستند و آنها ترجيح ميدهند دروسي راكه عايدات بيشتري دارد فراگيرند .

يكي از استادان ميگويد : « تاچند سال پيش درس خواندن و درس دادن در دانشگاه دولتي مسكو يك افتخاريه حساب مي آمد ، ولي اكنون چنين نيست .

وي تاكيد مي كند : « محصلين علاقه دارند دروس خودرا خارج ازچارچوب تعيين شده ازسوي حزب كمونيست مطالعه كنند ودیدگاه وسيعتري نسبت به مسائل مختلف پيدا نمايند » .

درطول دوسال گذشته كه آيديالوژي كمونيزم و كشور روسيه در حالت فروپاشي قرارگرفته ، پرداخت معاشات برخي از استادان به تعويق افتاده و تعدادي از استادان براي تدريس در دانشگاههاي اروپاي غربي و امريكا عازم اين كشورها شده اند و تعداد زيادي از استادان و محصلين نيز ترك تحصيل كرده و به كارهاي تجاري روي آورده اند .

يكي از مسئولان دانشگاه ميگويد : مشكلات مالي دانشگاه ، و استقبال كشورهاي غربي از استادان اين دانشگاه براي تدريس در دانشگاههاي غربي سبب شده است تاعده ، زيادي از استادان بالخصوص در رشته هاي رياضيات رهسپاركشورهاي غربي شوند .

تعداد محصلين دانشگاه نيز در اواسط دهه ، ١٩٨٠ ميلادي از ٤٨ هزار نفر به ٢٣ هزار نفر تقليل يافته است . محصلين دانشگاه تاچند سال ، هرساله به مدت يكماه جبراً به كار داوطلبانه در مزارع انتقال داده مي شدند ولي اكنون اين كاربه نسبت مخالفت آنها كمتر صورت مي گيرد . محصلين اين اقدام دولت را تلاشي براي دورنگهداشتن آنها ازسياست تلقي مي كند چنانچه يكي از محصلين دراين مورد مي گويد : « محصلين به همان اندازه كه به كچالو علاقه مند شده اند از سياست دوري مي جويند . همانگونه كه « فرنانډبرودل » جامعه شناس معروف فرانسوي ميگويد : يك آشپز ممكن شورباي بسيار خوشمزه اي را با بهترين مواد اوليه تهيه كند و هركسي كه آنرا بخورد ، بگويد چقدر خوشمزه است ، ولي پس از عادي شدن خوردن آن ، خوشمزه بودن معناي خودرا ازدست ميدهد . همين مسئله در رابطه ، سياست نيز صدق مي كند . »

در گذشته شركت در فعاليت هاي سياسي تازگي داشت و علاقه بسيار زيادي به آن نشان داده مي شد ، ولي اكنون مردم چنين علاقه اي را نشان نمي دهند ودر جستجوي چيزهاي ديگري هستند بناءً بسياري از استادان و محصلين دانشگاه دولتي مسكو به كارهاي بازرگاني غيررسمي روي آورده اند .

به همين لحاظ در روي تابلوي اعلانات دانشگاه ، اعلانات تجارتي فراواني به نظرميرسد ولي به نسبت مشكلات اقتصادي اين شغل نيز براي آنها درد سر زيادي دارد . دريكي ازاينگونه اعلانات يكي زير پيراهن تركيه به قيمت ٧٥٠ تا ٨٠٠ روبل پيشنهاد مي شود درحاليكه معاش متوسط شهريان عادي در حدود ٣٠٠ روبل درماه است .

درعين حال يكي از استادان دانشگاه دراين رابطه ميگويد : « هرآنچه تا ديروز بد تلقي مي شد ، اكنون خوب است و هرآنچه قبلاً خوب تلقي مي شد ، اكنون بد » .

وي اضافه كرد : وقتي اصلاحات شوروي بتدريج پيشرفت مي كرد و مردم با اوضاع خود را وفق ميدادند چون ميدانستند مقصد كجاست ولي پس ازوقوع كودتا اين تطابق آسيب ديد ، زيرا هيچ كس نمي داند فرداچه خواهد شد . »

اين عدم اطمينان افراد جامعه شوروي را ميتوان دروضع ناگوار اقتصادي آن كشور جستجو كرد زيرا بحران اقتصادي اي كه شوروي با آن روبروست درتاريخ آن كشورسابقه ندارد .

صدراعظم مؤقت شوروي ايوان سلايف در ماه ...

داسلامي تحريكونو وده او . . .

پوځل بيا جوړېدو اود عمومي انتخاباتو په ترسره كېدو سره دخپل سياسي ژوند نوي مرحلې ته ورداخله شوه ، خپل ځاي يې ددغه هېواد اړيكو بلې ټولنې ته پرېښود . داسې اړيكې چې وروسته بيا د پوځي اومقتدر گوند چې دحاكمه هيئت غوښتنه وه ، د جوړېدو سبب شوې .

كله چې قانوني بنديزونه له مينځه ولاړل نو د پخوانيو گوندونو پاتې شونو ډيرژر خپل گوندونه جوړكړل او دولسونو بو گوندو په انتخاباتو كښي د گډون ژمنه وكړه خود پوځي قوماندانې شورې چې د كودتا پنځو جنرالانو يې غړيتوب په غاړه درلود اود تصميم نيونې ډيره لوړه مرجع گڼل كېده پرالځي د دري توپو گوندونو گډون يې په انتخاباتو كښي تائيد كړ . دغه گوندونه عبارت ؤ : د تورگوت سون الپ په رهبري ملي ديموكرات گوند ، د تورگوت اوزال په رهبري د « مام وطن » گوند اود نجدت جالب په رهبري د خلق گوند .

له انتخاباتو څخه دري مياشتي وړاندې زياتره سياسي كتونكي په دې عقيده ؤ چې ملي ديموكرات گوند به د كنعان اوورن په مرسته بريالېتوب ترلاسه كړي خود اگست په ١٦ نېټه يوې امريكايي ورځپاڼې « وال استريت ژورنال » د يوې مقالې په ترځ كښي وليكل چې مطلب يې په تركيه كښي د تورگوت اوزال له بريالېتوب نه د امريكا ملاتړ ، همغه ؤ چې دامريكا دغه ديپلوماسي عملي شوه اود ١٩٨٣ ميلادي كال د نوامبر د مياشتي د انتخاباتو نتيجو وښوده چې د تورگوت اوزال په رهبري د مام وطن گوند وكولاي شو د پارلمان له ٤٠٠ څوكيو څخه ٢١١ څوكي لاس ته ور وړي اوبرته له دي چې بو ائتلافي دولت ته اړتيا يې مطلق العنانه حكومت يې جوړكړ اود حكومت په ټولو اداروي خپل حاكميت ټينگ كړ اوپه دي توگه د امريكا د خوښي حكومت د تركيې دواكمنې واگي په خپل لاس كښي ونيول .

اوزال د خپل حاكميت د تثبيت له پاره د هېواد د ټنې لاسي گوندونو مهم عناصر په خپل حكومت كښي جذب كړل او په دې توگه يې د ملي گرايانو ، ليبرالانو او اسلامي دلو په گډون يوه داسې كابينه جوړه كړه څو د خپلې صدراعظمې په لومړي دوره كښي (١٩٨٣-١٩٨٧) خپله سياسي موازنه ورياندې وساتي اود خپلو اقتصادي پلانونوله پاره ښه فضا برابره كړي .

دريمه دوره : (١٩٨٧ = ١٩٩١)

دريمه مرحله چې كولاي شو [illegible] وروستيو بدلونونه يكښي اشاره وكړو د ١٩٨٧ ميلادي كال ددسمبر د مياشتي په انتخاباتو سره پيل كېږي .

په دغو انتخاباتو كښي د تورگوت اوزال گوند « مام وطن » وكولاي شو چې د حقوقي اوسياسي مدنو پروگرامونو په لاره اچولو سره د بريالېتوب لازم شرايط برابركړي چې د انتخاباتو د قوانينو اومقرراتو تغير ددغو بدلونونو ډيرمهم شاخصونه گڼل كېدل .

ددغو انتخاباتو په نتيجه كښي د « مام وطن » گوند د مجلس ديولو ٤٥٠ څوكيو څخه ٢٩٢ څوكي لاس ته راوړي اوپه دي توگه تورگوت اوزال د يوې رقيب صدراعظم په توگه په خپله څوكۍ باقي پاتې شو . په دغه دوره كښي د تركيې سياسي رهبران اومشران په دې لټه كښي شول څوهيواد په سياسي امورو كښي د پوځيانو د مستقيم دخالت مخنيوي وكړي اوپه دي توگه هرسياسي بدلون چې راځي بايد په سوله ايزه توگه رامينځ ته شي . هدالامل ؤ چې د موجوده قوانينو په اساس په ١٩٨٩ ميلادي كال كښي د كنعان اورن د جمهوري رياست دوره پاي ته ورسيده اوتورگوت اوزال دهغه ځاي ونيو .

داسلامي تحريكونو وده او پياوړتيا

د رواني ميلادي مياشتي د ٢٢ نېټې انتخابات چې په هغوكښي دتورگوت اوزال گوند « مام وطن » وروسته له اتوكلونو څخه ماتي وخوړه اود سليمان ديرل گوند « د حقيقت لار » د نسبي اكثريت په گټلو سره بريالېتوب ترلاسه كړ . د تركيې په سياسي جوړښت كښي نوي باب پرانيست . په اوسنيو انتخاباتوكښي د لومړنيو شميرنو په اساس د سليمان ديرل گوند ٢٧ فيصده ، د مسعود ايلماس په مشري د « مام وطن » گوند ٢٤ فيصده ، د رفاه اسلامي گوند ١٧ فيصده او « سوسيال ديموكرات گوند » ١١ فيصده رأيي ترلاسه كړي . سليمان ديرل وروسته له هغه چې ١١ كاله وړاندې د يوې نظامي كودتا په وسيله له كاره گوښه كړاي شو تر اوس د نوي حكومت د جوړېدو په تكل كښي دي . ديرل چې ٦٧ كاله عمرلري له سياسي نظره يې لاس مركز گڼل كيږي نوموړي د اوزال په نسبت د هيواد اقتصادي وضعې ته زياته توجه لري اود امريكا د متحده ايالاتو د بهرني سيست پلوي دي .

حقه خه چې د ١٩٨٣ ميلادي كال نه وروسته يې [illegible] بيا احياء پديده وه . د اسلام بيا ژوندي كېدل او اسلامي شرايعو خواته د خلكو گروهنه چې د غربي اطلاعاتي وسايلو له خوا د « اسلامي بنسټ پالنې » په عنوان يادېږي ، اوس د تركيې د ټولنې عيني واقعيت گرزيدلې دي . اسلامي زده كړوته مخ په زياتيدونكې پاملرنه ، د مذهبي ټولنو نفوذ ، اسلامي ادبياتو سره مينه دا ټول دوي مسئلي ښكاره دليلونه دي . « ماري يومودياتو » د يوسټر تركي ټولنه پيژندونكې په حواله وايي چې د اسلام احياء د تركيې په ډيرو طبقو خلكو كښې زيات په سترگو كيږي . لومړي هغه خلك چې په خپل ورځني ژوند كښي په دين باندي زياته تكيه كوي . دويم هغه خلك چې له « طريقت » نه عالمانه برداشت لري اوپه دې توگه كوشش كوي چې ټيوالي چارې په اسلامي موازينو سره توجيه كړي . دريم هغه خلك دي چې په مبارزه دلو كښي راغونډ شوي اوپه مذهبي اسلامي حكومت باندي عقيده لري .

په تركيه كښي د نويو اسلامي خوځښتونو وده حتي جنرال كنعان اورن چې د ١٩٨٠ ميلادي كال د كودتا رهبرؤ د ١٩٨٧ ميلادي كال په لومړيو كښي دي ته اړكړ چې له ځانه نه عكس العمل وښيي . نوموړي د ١٩٨٧ ميلادي كال په لومړيو كښي د يوې وينا په ترځ كښي مسلمان مبارزين هم د كمونيستانو په څير د تركيې د غير مذهبي رژيم له پاره خطرناك وگڼل . خو اسلام گروهني سره د مقابلې له پاره د جنرال اورن اوتورگوت اوزال ترمينځ يوځه توپير موجود ؤ ، اورن چې ځان يې د اتاتورك د ميراث مسئول گاڼه د پريكنده مقابلې غوښتنه كوله ليكن اوزال د نرم دريځ طرفدار ؤ . اوزال په دې عقيده ؤ چې اسلامي بنسټ پالي د تركيې د حكومت له پاره بالقوه خطر دي خوپه اوس وخت كښي زيات خطرناك اوتهديدونكي ندي .

د تركيې په سياست كښي د بدلون مثبت ټكي ددغه هيواد په وروستيو انتخاباتوكښي د رفاه د اسلامي گوند گډون دي چې د ١٧٪ رايو په گټلو سره يې د تركيې په ټولنه كښي د مسلمانانو حوصلې اوچتې كړي اود اسلام د بيا احياء له پاره يې دروازه پرانستله . دغه گوند ته چې له لسو كلونو راپدېخوا د لومړي ځل له پاره په انتخاباتو كښي د گډون حق وركړشوي ، په مسلمانانو پوري اړه لري اوپه دي عقيده دي چې تركيه بايد له اروپايي ټولني اوناټو تړون نه ووځي ، له صهيونيزم سره خپل مخالفت اعلان كړي اود اسلام ديني اومعنوي ارزښتونو ته بيرته وگرځي .

كه چيرې په تركيه كښي د اسلامي تحريك وده په همدومره سرعت سره دوام پيداكړي نو كيداي شي چې په نږدې راتلونكي كښي د تركيې په سياست كښي [illegible] رول ولوبوي . « مذكر »

نقش نويسندگان . . .

انديشند ودرقرآن كريم برنويسندگان اهل كتاب وعيد آمده است حكمش شامل همگان است وبرين مضمون (پس واي به آنان ازآنچه نوشت ودستهاي شان وواي بر آنها ازآنچه مي كنند) و كلمه د « ويل » سه نوع عقوبت را دربردارد ودرآيت مذكور دوبارمكرر آمده است كه مفهوم آنرا برداشتيم . درين مقطع حساس تاريخي واوضاع وشرايط كه كفار شرق وغرب به اصطلاح در راه خاموش ساختن چراغ نوراني دعوت اسلامي ومشعل تشكيل حكومت اسلامي وتضعيف روحيه ، مورال مؤمنان ومجاهدين راه حق مصروف سم پاشي فرهنگ استعماري وتبليغات كفري وشيطاني اند وافكار دهريت ونصرانيت ويهوديت را بالانواع گوناگون درداخل جامعه ، ما مي گمارند وظيفه و هرنويسنده مسلمان ومجاهد قهرمان ودعوتگرسنت وقرآن است كه مبارزه ، سخت وقاطع را برابر مفاسد اخلاقي بكار برند وباهروسيله ، ممكن جلو خود اراديت عناصرٌ وابسته ، استعمار شرق وغرب ودر رأس امريكا وروس راسد شده وازهمين نقطه درداخل اجتماع جهادي وخارج آن يك مبارزه ، وسيع اسلامي را آغاز نمائيم ودرين راستاباثبات قدم وقاطعيت تام ازعالم تامتعلم ،ازنويسنده تا شاعر ازمجاهد تا مهاجر چون مقابله ، ملحدان وروسان يك استخيزد ديگر اسلامي را به راه اندازيم تا جهاد وآينده ، انقلاب اسلامي افغانستان ازخطرهاي جدي وگمراهكن درآمان ماند .

دمسكو ميلمنو ته

حاجي عبدالتواب « بابكرخيل »

په وينو د شهيد تجارتونه مه كوئ
د ښمن ته مه ورځي چه تسواني معنئ ده
د مره سامراج د لاسه مو وطن په وينو رنگ شو
سپېڅلي شهيد انو بنيمانو مو در په ياد كړئ
روان شي سنگرونه مجاهد وروڼه خوشحال كړئ
عجيب دي وا رخطا دغه تغر به يې نورټول شي
د مطلب ټكي بيان با بكرخيل كړه ميلمنوته

خداي ومنى دښمن ته خپل عذرونه مه كوئ
دا سپكا وي قيمته سفرونه مه كوئ
ظالم سره په ښه نيت ميتنگونه مه كوئ
مسكو ته په خوشحالۍ پروازونه مه كوئ
مسكو او واشنگټن ته اميدونه مه كوئ
لږخه همت پكاردي نورخوبونه مه كوئ
دخداي دج نه عفوه غواړئ نورچلونه مه كوئ

بسم الله الرحمن الرحيم

دافغانستان دجنوب غرب دحوزې ددينې علماؤ اوجهادي قوماندانانو متفقه اعلاميه

الحمد لله رب العالمين – والصلوة والسلام على رسوله الكريم – وعلى آله واصحابه اجمعين .

كله چې (په١٣٥٧هـ ش) كال دغوائي دكمونيستي كودتا او فاجعې په نتيجه كښې دخلق او پرچم دملحدوډلو لخوا په اسلامي افغانستان كښي دكمونيزم الحادي رژيم را مينځ ته شو . نو ځكه دافغانستان ديني علماؤ ددغه كمونيست اوگوډاگي رژيم پرخلاف دمقدس اسلامي جهاد دپيل په خاطر شرعي فتوي صادره او اعلان كړه .

او دافغانستان ددغه ملحد او لاس كېښودلي رژيم پرخلاف يې مسلحانه جهاد فرض عين وباله . چې دټولي اسلامي نړۍ ديني علماؤ دغه شرعي فتوي دوخت سره برابره پرځاي وبلله او خپل ټينگ تائيد اوملاتړ يې ورسره اعلان كړ .

چې په همدي اساس دافغانستان په اسلام ، وطن ، او آزادي مين مجاهد او قهرمان ملت دخداي جل جلاله درضا دتر لاسه كولو ، دافغانستان د اسلامي آزادي ، داسلام دمقدس دين دغو بنسټو او اصولو سره سم په افغانستان كښي داسلامي زعامت ، اوډېر سوچه او سپېڅلي اسلامي نظام دقيام په خاطر په افغانستان كښي مقدس اسلامي جهاد پيل كړ .

ددغه پاك او سپېڅلي اسلامي جهادلومړي مرحله لاترسره شوې نه وه چې دكرملين دماڼيو دسردمدارانو اوجلادانو داسې هولكې ، وار خطا ، اوپه لړزه شول چې بې له دې چې دافغانستان دشهيد پرور ، مجاهد اوقهرمان ملت وياړلي تير تاريخ ، داسلام ، وطن ، او آزادي سره بې اندازې زياته مينه اوقرباني‌جذبه ترغور او څېړنې لاندې ونيسي – ديومرتعش په څېر يې په ځرگند ډول په خورا زياته بې شرمي دسره ښكيلاك اشغالگرپوځونه داسلامي افغانستان داشغال په خاطر افغانستان ته واستول او خپل گوډاگيان يعني خلقيان او پرچميان يې يو دبل پسې دكابل پر تخت كېښول . چې په نتيجه كښي يې ودان افغانستان وران او لوټي لوټې كړ . ديونيم مليون څخه زيات افغانان يې په شهادت ورسول ، معيوب شول ، دپنځو مليونو څخه زيات افغانان پاكستان او ايران ته مهاجر شول ، په لكونو افغانان معيوب شول ، په لكونو ماشومان يتيمان شول ، اوپه لكونو ښځې كونډې شوي . حتی چې ترهغه پوري دافغانستان مظلوم اوبې چاره ملت دروسانو دمستقيم او ځرگند ظلم اوتيري په وينو كښي لت پت وځړي .

خو لله الحمد دتوانا خداي جلا جلاله دبې پايانه فضل او نصرت له مخې په اسلامي افغانستان كښي مقدس اسلامي جهاد داسې ځپانده شو نه يوازې داچې دروسانو دغه بې شرمانه او ځرگند تيري يې په افغانستان كښي دتل له پاره دبشپړې ماتي سره مخ كړ بلكې په توله نړۍ كښې يې دكمونيزم دغه سري خوړ دالحاد ، دهريت ، بې ديني ، ظلم ، تيري ، وحشت ، او بربريت ملكوره او دهغې تصور دتل له پاره دماتي او نابودي په لويه جهنمي كنده كښي ښخ كړ .

اوس چې دافغانستان مجاهد ، قهرمان ، او اتل ملت ديونيم مليون څخه دزياتو شهيدانو دوينو او شهادت ، دلكونو افغانانو دمعيوب كېدو ، او دلكونو كونډو او يتيمانو دوړلودلو په قيمت دټولي نړۍ لوي بيامار اومكار دښمن ته دقادر خداي جل جلاله په مرسته اوكمك كامله ماته وركړه نوځكه دغه ماتي خوړلي دښمن دنورو كفري طاقتونو په ملگرتيا په ډيره بې شرمي سره داسې مذبوحانه هلې ځلې پيل كړيدي چې په افغانستان كښي بيا خپل ماتي خوړلي گوډاگيان دمخلوط اويا بې طرفه حكومت دتشكيل په نتيجه كښي دقدرت پرگدې كېښنوي . دروسانو او نورو كفري طاقتونو ددغو ټولو بې شرمو اومذبوحانه هلو ځلو يوازيني مطلب او مقصد همدا دي چې په افغانستان كښي داسلامي اصولواوغوښتنو سره سم دمجاهدينو له منځې ، دمجاهدينو په خوښه ، دمجاهدينو داسلامي مشرتوب ، اوهلته داسلامي نظام درامينځته كېدو مخنيوي وكړي اوبس .

اوحال داچې دافغانستان مجاهد ، قهرمان ، او اتل ملت دغه پوره ټولي قرباني پدې خاطر وركړيدي چې : دبې زواله خداي جل جلاله په مرسته اوكمك گران او اسلامي افغانستان آزادشي ، هلته دمجاهدينو له مينځه ، دمجاهدينو په خوښه ، داسلامي اصولو او غوښتنو سره سم دمجاهدينو داسې باوري اسلامي زعامت رامينځ ته شي چې دافغانستان مجاهد ملت ددغه زعامت دديانتداري ، امانت داري ، سياسي پوهي اهليت او كفايت څخه مطمئن وي . ترڅو په اسلامي افغانستان كښي دلوي خداي جل جلاله په فضل دسوچه اسلامي نظام دقيام پواسطه دافغانستان داسلامي ملت او شهيدانو آرمانونه پوره كړي .

له همدي امله موږ دافغانستان دجنوب غرب حوزې ديني علماء ، اوجهادي قوماندانان دافغانستان دروانې قضيې دسياسي حالاتو ، اوددغې قضيې دغير اسلامي حلونو او طرحو پيشنهادونو په نظر كښي نيولو سره خپل ټينگ دريځ داسې اعلانوو .

١ – موږ گوډاگي نجيب ، دهغه دوطن گوند ، او دهغه دملحد رژيم غړي دپخوا په څير مرتدين بولو او ددوي سره دپخوا په څير مقدس اسلامي جهاد فرض عين گڼو .

٢ – موږ دملحد نجيب ، دهغه دوطن دگوند او دهغه دملحد رژيم دغړو ، دنورو غير اسلامي او سياسي ډلو ټپلو او مجاهدينو ترمينځ دمخلوط اوگډ حكومت جوړول په كلكه رده وو – او غير اسلامي يې بولو ، چې دداسې غير اسلامي حكومت په خلاف به انشاء الله العزيز په افغانستان كښي داسلامي زعامت او اسلامي نظام ترقيام پوري داسلام مقدس جهاد ته دوام وركوو .

٣ – دملل متحد سرمنشي ديكويار چې دافغانستان دروانې قضيې دسياسي حل په غرض كومه پنځه فقره ايزه طرحه وړاندې كړيده موږ دغه طرحه رده وو او په افغانستان كښي يې دخورا زياتو وينو تويولو لويه وسيله گڼو .

٤ – هرهغه بې طرفه حكومت او بې طرفه اداره چې دپردو دتحميل په نتيجه كښي داسلام دمقدس دين پر خلاف او په افغانستان كښي دمقدس اسلامي جهاد اهدافو دتحقق دمخنيوي په خاطر رامينځ ته كيږي موږ يې په كلكه رده وو .

٥ – څه موده دمخه دمجاهدينو دهيئت په نوم يو هيئت ملل متحد ته دروس دخارجه وزير او نورو كفري طاقتونو دسفيرانو سره دافغانستان دروانې قضيې دسياسي حل په هكله دليدلو ، كتلو او مشورې په غرض تللي ؤ . موږ ددغه هيئت تگ ملل متحد ته ، هرغيراسلامي تصميم ، اوپردو سره دافغانستان دروانې قضيې دسياسي حل ، دافغانستان دآينده سرنوشت او زعامت دټاكلو په هكله ليدل ، كتل ، او استشاره په ټينگه ردوو .

٦ – همدا اوس چې دمجاهدينو دهيئت په نوم يو هيئت مسكوته روان دي داپدې خاطر چې هلته دروسانو سره دافغانستان دروانې قضيې دسياسي حل ، او دافغانستان دآينده سرنوشت او زعامت دټاكلو په هكله خبرې اترې ، اومشوره وكړي ، موږ ددوي دغه تگ مسكو ته په قاطعانه ډول رده وو . دوي چې هلته دافغانستان دمقدس اسلامي جهاد د اهدافو په خلاف هره غير اسلامي پريكړه وكړي موږ يې په ټينگه مردوده او غير نافذه گڼو .

٧ – موږ دافغانستان دټولو جهادي تنظيمونو څخه په كلكه غوښتنه كوو چې ژرتر ژره په خپل مينځ كښي يو ټينگ وحدت رامينځ ته كړي او دافغانستان دديني علماؤ ، جهادي قوماندانانو ، اومتدينو مشرانو څخه دشرعي مواصفاتو سره سم د « اهل العقد والحل » اسلامي شورى ژرتر ژره رامينځ ته كړي . ترڅو دغه اسلامي شورى دافغانستان دمسلمان مجاهد ، اوقهرمان ملت له پاره آينده اسلامي زعامت داسلامي اصولو اوغوښتنو سره سم وټاكي .

ومن الله التوفيق

[illegible]

بسم الله الرحمن الرحيم

اتحاد اسلامي افغانستان

قطعنامه

قوماندانان ومجاهدين ولايت كابل

بعد از صدر اسلام بزرگترين جنگ هايكه بين مسلمين وكفار درتاريخ اسلام صورت پذيرفته است جهاد افغانستان مي باشد كه با حمايت ونصرت غيبي خداوند (ج) و اراده مقاوم مجاهدين راستين اين سرزمين درتاريخ معاصر بشريت ، بزرگترين قوت الحادي وطاغوتي جهان رابزانو درآورد .

مردم مسلمان ما ، باخون هاي پاك ، جان هاي شرين وهرآن چيزيكه درتوان داشتند ، با اخلاص وتوكل بخداوند بدفاع از آرمان هاي سترگ اين جهاد پرداختند . ودرين راستا يكنيم مليون ازملت مؤمن ما شهيد شد ، پنج مليون مهاجر ، آواره ودور ازوطن گرديد . افغانستان به ويرانه ومخروبه اتي مبدل ساخته شد .

بلي ! ملت مؤمن ما درسنگرهاي خونين وگرم جهاد درطول «١٤» سال جهاد ، سردشمن راخم نموده وبافضيحت ورسوائي وشكست تاريخي گرفتارش ساخت . روند جهاد برحق ما تحولات سريع را در نظام هاي كمونيستي ودرپايگاه بين المللي آن يعني در روسيه شوروي بوجود آورد . امپراطوري عظيم روسيه رويه تجزيه نهاد ، حزب كمونيستي آن منحل گرديد ، مخوف ترين دستگاه آدم كشي (كا . جي . بي) ازصحنه كناركشيده شد ، جمهوريت هاي محكوم اعلان استقلال و آزادي نمودند ، مجسمه لنين وديگر زهبران آنها بوسيله مردم ايكه (۷۰) سال در زندان كمونيزم گرفتار بودند سرنگون ساخته شد . و .... روسها درهمه، ساحات و مجال ها به شكست روبروشدند . رهبران بدنام آن اشغال افغانستان را اشتباه خوانده و سند ذلت وناكامي ارتش سرخ را با خروج فضيحت بار خود ازافغانستان به مجاهدين ما تحويل دادند .

اگريك استيراتيژي مشخص و وحدت مخلصانه بين نيروهاي جهادي قايم ميگرديد رژيم مزدور نجيب ، غيرممكن بود كه تاكنون به حيات ننگين خود ادامه ميداد .

روسها آن چيزي راكه در ميدان جنك و قتال نتوانستند برملت ما بقبولانند امروز با همدستي امريكائي دشمن به اسلام ، درتلاش اند تاآنرا از طرق ديگري باعناوين مختلف جامه عمل بپوشانند .

طرح پنج فقره اتي سازمان ملل ، دايرساختن كنفرانس اسلام آباد و تهران ، دعوت از هيئت مجاهدين به ملل متحد ، ارائه دو پيشنهاد ازطرف وزير خارجه روس به هيئت مجاهدين و با لاخره رفتن هيئت مجاهدين به مسكو در شرايط فعلي همه، توطئه هاي استكبار جهاني به سركردگي روس و امريكا است تا جلو قايم شدن يك حكومت اسلامي را در افغانستان بگيرند .

رفتن هيئت از مجاهدين به مسكو درحالت ايكه دشمن شكست خورده و ازپادرآمده است در حق جهاد و مجاهدين تنازل محسوب گرديده و لكه بزرگ و بدنامي تاريخي شمرده مي شود هيئت ايكه ازكدام مرجع اصولي كه اراده مردم مسلمان افغانستان را تمثيل نمايد سند و كالت و اجازه رفتن را نيز با خود ندارند .

بناءً موقف خودرا به ارتباط جريانات اخير طور آتي اعلان ميداريم :

۱- رفتن هيئت رابه مسكو درحاليكه مجاهدين ما آخرين راحل كامبابي خودرا طي ميدارند ، بي حرمتي و توهين اين جهاد تلقي مي نمائيم و اين هيئت نمايندگي ازمجاهدين كرده نمي تواند . بدين لحاظ اين سفر را شديداً محكوم نموده و آنرا رد مي نمائيم .

۲- پيشنهاد روس و امريكا را مبني برتصميم گيري در نظام مستقبل و آينده كشورما رد نموده و محكوم ميداريم ، زيرا جواز ندارد كه كافر در تعين سرنوشت يك ملت مسلمان شريك شود .

۳- حكومت ائتلافي و بيطرف كه درآن عناصر نامسلمان و مشكوك جا داده مي شوند شرعاً نا روا بوده نزد ما محكوم و مردود است .

٤- عناصريكه جهاد برحق مارا عليه لانه هاي كفر والحاد ، خونريزي مي نامند بزرگترين توهين را نسبت به سنگر جهاد روا داشته و اين عملگرد شان نزد ما مردود است .

٥- حق تعيين سرنوشت را در افغانستان بجز از مجاهدين كسي ديگر ندارد .

٦- تا استقرار حكومت اسلامي و ختم آثار كفر ، جهاد ما ادامه خواهد داشت .

در خاتمه ازخداوند بزرگ استدعا ميداريم تا جهاد مارا ازشردشمنان اسلام محفوظ داشته و نظام اسلامي را درافغانستان متحقق بگرداند .

والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته

كه دهند حكومت دبابري جومات ساتنه نشي كولاى نو مسلمانان به دهغه دسا تنې دنده په غاړه واخلي

د هندمسلمانانو ددغه هيواد حكومت ته خبرداري وركړي دي چي كه چيري د هندحكومت دسخت دريځو هندوانو په لاس دبابري جومات دشهيدولو په مخنيوي كي پاتي راغلل نو د هند مسلمانان به د نوموړي مسجد د شهيدولو مخنيوي پخپله وكړي .

د آلمان غږ راديو د رپوټ له مخي تيره ورځ افراطي هندوانو په بابري جومات باندي د خپلي ناولي زهرژنكي جنجي دځولولوخپلي برتري د ځرگندولو هلي ځلي وكړي .

د خبرپراساس : د نومبر د مياشتي په دويمه نيټه د هندي پوځيانو په پهره داري برسيره بابري جومات ته ورننوتل

اودهغوي ددي كارله امله مسلمانانو د هند صدراعظم نرسيمارائو ته ويلي دي چي : هندي پوليس او د جومات ساتونكي

دهند دمسلمانانوغوښتنه

پخپله هم په دغه كاركښي له افراطي هندوانو سره مرسته كوي . په دي اساس كه حكومت د بابري جومات ساتنه ونكړي نومسلمانان مجبوردي چي د بابري تاريخي جومات د ساتني دنده په خپل لاس كښي واخلي .

بوريس يلتسين مسوده قانون اساسي فدرال را براى فدراسيون روسيه پيشنهاد كرده است

مسكو - ۱۱ عقرب

بوريس يلتسين رئيس جمهور روسيه مسوده قانون اساسي آن جمهوري راكه بگفته اوشامل تضمين هاي قانوني محكم براي جلوگيري ازبازگشت ديكتاتوري به اين جمهوري است به كنگره پيشنهاد كرده است.

بوريس يلتسين گفته است كه اين قانون اساسي راه رابراي پيوستن روسيه باشرايط مساوي جامعه بين المللي هموار ميسازد .

وي همچنان گفته است كه او يك قانون اساسي فدرال براي جمهوري روسيه درنظر گرفته است ، زيرا قوانينيكه درنقاط خود مختارمورد تصويب قرارميگيرد ، نبايد باقوانين مسكو مغايرت داشته باشد .

بگفته خبرنگار بي ، بي ، سي درمسكو اين موضوع به مخالفت مردم خود مختار روبرو شده است .

دفارياب په ...

د يادوني وړده چي د كابل رژيم د مليشه ؤ ترمينځ مخكي په وار وار د افغانستان په زياتو سيمو كي د لوټ شويو مالونو د تقسيم په سر نښتي شوي دي ، چي په كي زيات شمير مليشه وژل شوي اوټپيان شويدي .

«ميډيا»

مجاهدينو په هرات كښي دمليشه ؤ قوماندان حبيب الله «بنگ» وژلى اودوه پوستي يې ويجاړې كړيدي

په هرات كښي مجاهدينو د اكتوبر په (۲٦) نيټه ربوټ وركړى چي مجاهدينو د هرات ښار په جنوب امنيتي كمربندى پوستو باندي يوه

گوريلائي حمله وكړه چي په نتيجه كي د كمونيست رژيم د مليشه ؤمشهور قوماندان حبيب الله «بنگ» وژل شوى او دوه پوستي يې ويجاړې كړيدي .

په ننگرهاركي...

رپوټ زياتوي چي د كمونيستي رژيم د جيټ الوتكو د ناځاپي بمباري په اثر د اكتوبر په وروستي اوني كښي د جلال آباد - طورخم د لويي لاري د باسول په ولسوالي كښي د نېيوال سره صليب د كلنيك دزملوځخه بوخالي اطاق په بم الوتي خو د كلنيك عمله د معجزانه — ډول ژوندي پاتي شوي اوهيڅ مرگ ژوبله ورته نده رسيدلې .

د خبر مطابق د سيمې وگړو د كابل رژيم ددغه ظالمانه بمباري ځخه چي د نړيوالو خيريه مؤسسو په كلنيكونو اوعملي باندي يې ترسره كړه كوم چي د جنگ ځپلو وگړو په دارو او درمل وركولوكي مشغول دي ، د كمونيستي رژيم ځخه نوره هم كركه اونفرت ځرگند كړيدى .

دغه شان د رژيم جيټ الوتكو د اكتوبر په ۳۰ نيټه د لنهې خيبر ځخه ترفارم چارپورې د جلال آباد . تورخم په لويه لاره د مجاهدينو سنگرونه اود كليوالو كوروونه بمباري كړل چي پكي د سرزيان ندي رسيدلى خو پوشمير جونگړي تباه شوي دي .

ميډيا ته د يوه جهادي خبرځاي د خبرله مخي د جلال آباد په جنوب د چپرهار علاقدارى دمليشه ؤ پرپوستو باندي بريدونوكي د رژيم قواؤته مرگ ژوبله اوړيدلې اوهم ځلورتنه مجاهدين د رژيم د ټانك په گولي سره ټپيان شويدي .

د وروستني اطلاع مطابق د جلال آباد په شاوخوا كي د دواړو خواؤترمينځ په تويوتو ډزي رواني دي

دمنځني ختيځ ...

الشرع » ويلي دي چي شامير په منځني ختيځ كي سوله نه غواړي اوهغه دنړيوالو تولو بهوديانو څخه غوښتي دي چي هغوي دي دصهيونيستي نظام سره وفادار پاتي شي .

همداراز د اردن د بهرنيو چارو وزير «كامل ابوجابر» ويلي چي دمادريد له دري ورځني غونډي څخه ځرگندېږي چي اسرائيل پخپل دريځ كي بدلون راوستل ته غواړي اوټل داغوښتنه كوي چي چيري عربي ملكونه په منځني ختيځ كي سوله راوستل غواړي ، نو په خپل دريځ كي دي بدلون راولي .

همداشان د غونډي په پاي كي اسرائيلي صدراعظم اود سوريي دبهرنيو چارو وزير يوبل باندي توروونه ولگول .

د اسرائيلوصدراعظم «اسحاق شامير» وويل چي : د شام حكومت په تروريزم ،

ظلم ، جبر او استبداد كي لوټلاس لري ، چي هدف يې داسرائيلو ديره كي اچول اوترتأثيرلاندي راوستل دي .

همداراز دسوريي دبهرنيو چارو وزير وويل : اسحاق شامير له سولي سره علاقه نلري اوهغه يو تروريست دي . هغه دشامبرهغه تصوير ښكاره كړ كوم چي هغه په ۱۹٤۸ كال كي د ملگرو ملتونو

د يوه مبصر په قتل كي د لاس درلود ، پدي وخت كي د اسرائيلو صدراعظم دنوموړي تصوير په ليدو سره له كنفرانس نه اووت اواسرائيلوته روان شو .

په خبركي ويل شوي دي چي د لبنان، اردن اوفلسطين نمايندگانو بوځل بيا پدي خبره ټينگار وكړ چي د مادريد كنفرانس ترهغي پوري نشي كامياببداى ترڅو اسرائيل له ټولو عربي نيول شوي ځمكو نه ونه وځي.

سفر قريب الوقوع ...

آنها همچنين در بيانيه هاي شان به ادامه جهاد تا استقرار حكومت اسلامي تاكيد ورزيدند و حكومتي راكه عناصر نامسلمان و مشكوك دران جا داده شود مردود شمردند .

دراخير محترم قيام الدين كشاف رئيس كميته دعوت وارشاد طي بيانيه ارزشمند شان به اهداف جهاد افغانستان روشني افگنده وتمام دسايس دشمنان اسلام را برملاساخته گفتند : ما اين جهاد را بخاطر ازبين بردن فتنه و اقامه حكومت عدل اسلامي آغاز نموده بوديم . اكنون مرحله اول آن را كه همانا جهاد در برابر فتنه گران و آشوبگران كمونيست و قواي متجاوز روس بود به ياري خداوند و فداكاري رزمندگان راه اسلام به سر رسانديم

وحال در آستانه تحقق هدف دوم جهاد اسلامي خود قرارداريم . اين مرحله نسبت به مرحله اول مشكل‌بوده استقامت و هوشياري زيادي بكار دارد

زيرا اگر دراين مرحله ازسهل انگاري و سستي كارگرفته شود خدا ناخواسته تمام ثمره اين جهاد و قهرمانيهاي ملت مؤمن مابه هدرخواهد رفت .

محترم كشاف در قسمتي اخير بيانيه شان بي اتفاقيهاي رهبران تنظيم هارا دليل اصلي تاخير پيروزي مجاهدين تلقي كرد گفتند : ملت مؤمن افغانستان به رهبر ي همين رهبران به جهاد آغاز نمود و ازهيچ گونه فداكاري و جانبازي دريغ نه ورزيد اكنون وظيفه، رهبران جهاد است كه ازخون شهداي گلگون كفن پاسداري نمايند و نگذارند اين خون هاي پاك به هدر رود .

محفل حوالي دوازده ظهر با قرائت قطعنامه و دعائيه خاتمه يافت .

لازم به تذكراست كه متن كامل قطعنامه مجاهدين ولايت كابل و حوزه جنوب غرب درهمين شماره هفته نامه اتحاد اسلامي خدمت خوانندگان تقديم ميشود

تبديلي نام

برادرمجاهد نورآقا ولد عبدالستار ازولايت كابل ولسوالي ميربچه كوت علاقه داري كلكان ازقريه « قحي » كه فعلاً در صنف دوازدهم حربي ښوونځي اتحاد اسلامي افغانستان مصروف درس وتعليم ميباشد ميخواهد اسم خويش را به حبيب الرحمن ولدعبدالستار تبديل نمايد .

فلهذا تقاضا مي گردد تابرادرمذكوررا من بعد به اسم حبيب الرحمن بشناسيد .

همچنان برادرمسافرخان ولد عبدالحميد متعلم صنف نهم ليسه اتحاد اسلامي كه اصلاً مسكونه ولسوالي شكردره ولايت كابل ميباشد . اكنون نام خودرا به عبدالمقيم تبديل نموده ، وي ازتمام دوستان خويش خواهشمند است كه منبعدي را به اسم عبدالمقيم بشناسند.

كنفرانس مادريد بابرگذارى تظاهرات توسط دانشجويان مسلمان تقبيح گرديد

روزپنجشنبه ساعت ده قبل ازظهر راه پيمائى پرشكوهى توسط محصلين و متعلمين پوهنتون ها ،مكاتب ، مدارس و معاهد مهاجرين صورت گرفت .

درين راه پيمائى كه در جاده عمومى سپين جومات انجام يافت محصلين انعقاد كنفرانس مادريد راكه درآن سران كفر ونمايندگان كشورهاى عرب شركت ورزيده بودند بشدت تقبيح نموده و مطالبى مهمى را در مورد نقش امريكا وروس در اشغال كشورهاى اسلامى و پشتيبانى بيدريغ ابرقدرتها ازسياست تجاوزكارانه اسرائيل به حاضرين بازگوگردند .

راه پيمائى با سردادن شعارهاى جاودان الله اكبر آينده از اسلام است ، مرگ بر روس و امريكا ما ازداعيه برحق ملت فلسطين حمايت مى كنيم ، قدس بدست مجاهدين راستين آزاد خواهد شد ، خيبر خيبر يا يهود جيش محمد سوف يعود ، پايان يافت

جاپان خواستار شركت در تلاشهاي بين المللي براي صلح شرق ميانه شد

توكيو ۱۱ عقرب

جاپان اعلان كرده است كه ميخواهد درتلاش هاي بين المللي براي برقراري صلح شرق ميانه سهم داشته باشد .

دريك بيانيه وزارت خارجه جاپان آمده است كه آنكشور باتقاضاي امريكا مبني برشركت درمذاكرات چند جانبه پيرامون مسايل كنترول سلاح ، منابع آب آشاميدني آوارگان وطرحهاي توسعه اقتصادي موافقت كرده است وقصددارد تا چارچوب اين مذاكرات را هرچه زودتر تعيين ...

مجاهدينو په كوه صافي كښې دكابل رژيم دقواؤ يوه انتقامي تعرضي حمله په شا وتمبوله

د ميډيا د خبري اژانس د رپوټ له مخي دپروان ولايت دكوه صافي مجاهدينو دكابل رژيم دبگرام دهوائي ډگر د كمونيستي قواؤ د ټانكونو اوپياده قواو يوه تعرضي انتقامي حمله د اكتوبر په (۳۰) نيټه د توري ځوكي په شرشره سيمه كي د سختي مرگ ژوبلي په اړولو سره په شا تمبولې ده . رپوټ زياتوي چي د رژيم د قواؤ دغه حمله چي د جيټ الوتكو پواسطه بدرگه كيده د كوه صافي د مجاهدينو ځخه د گرديز ښار د غږ اخيستلو لپاره ترسره شوي كوم چي مجاهدينو د بگرام د هوايي ډگرځخه د جيټ الوتكو الوتني د سكرشل د ډزو پواسطه بندي كړي وي

د رپوټ مطابق د كمونيستي رژيم د قواؤ ځخه پاتي د متصبدارانو د جسدونو د انتقال لپاره رژيم د سپين بيرو يوه جرگه مجاهدينوته ولېږله چي

وروسته مجاهدينو جرگي ته مړي ورپوسپارل كوم يې چي په زور سره ونشو انتقال كولاى .

خبرځاي د رژيم د ارتباطي وسيلو په حواله زياته كړه چي د بگرام هوايي ډگر قواوي نيت لري چي دكوه صافي مجاهدينو باندې د توري ځوكي دشرشري غاښي او سرپوش په ستراتيژيكو دفاعي ځايونو باندي د دري خواؤنه انتقامي حمله وكړي

هرات كښې ۲۲ تنه ...

همدارنگه له دي پيښي دوه ورځې وړاندې د زنده جان دولسوالي د كاريزونو په سيمه كي د مجاهدينو لخوا د يوځاي پرځاي شوي مين د چاودېدو له امله د كابل رژيم د قواؤ يوه پوځې لاري د څلورو تنو سوارو عسكرو اومليشه و سره له مينځه تلي اوشپږ تنه نوريې سخت ټپيان شويدي

داسلام مخلص بچيان...

دي نوځكه مونږ دغه كنفرانس ردوو اوله ټولومسلمانانو څخه غوښتنه كوو چي پرقدس باندي زږه وخوږوي اودفلسطين غرېدزړه په غوږ واوري ، دفلسطين دخاوري اومسلمان ولس دآزادولولپاره د عزت په لاره يعني دجهاد په لاره روان شي .

دردانشگاه مسكو...

سنبله نامه اي رابه جامعه، اروپا تحويل داد كه طي آن خواستار ميزان قابل توجهي كمك غذايي شده تا كشور بتواند زمستان آينده را پشت سربگذارد .

دريك بيانيه، جامعه اروپا آمده كه سلانف خواستار ٥/٥ مليون تن گندم ، ۸۰۰ هزارتن گوشت و ۹۰۰ هزارتن بوره شده است . يكي از اقتصاددانان مشهور شوروي بوگني ياشين ، عدم موفقيت در رسيدن به يك توافقنامه، عملي، عواقب مصيبت باري به دنبال خواهد داشت . وي گفت : من فكرمي كنم توليد بين ۲۰ تا ۳۰ درصد كاهش تورم يك هزار درصد افزايش خواهد يافت .

ياشين درطي گزارشي درمورد اقتصاد شوروي گفته است كه درطي شش ماهه اول سال جاري توليد ناخالص ملي ۱۰ درصد كاهش يافت درحاليكه تورم ۱۹۱ در صدبود .

اگراين بحران اقتصادي شوروي همچنين به شدت ادامه يابد اين كشوردربحران عميقتري فروخواهد رفت و اداره هاي تعليمي را نيز سخت متاثر خواهد كرد .

« وفا »

اعلان

پوهنځي طب و دندان پوهنتون دعوت وجهاد درهمه ديپارتمنت هاي خويش اعم ازبيسك سانيس پراه كلنيك و كلنيك به استادان ورزيده و متخصص ضرورت دارد . كسانيكه به استادي درپوهنتون مذكور علاقه داشته باشند به مديريت تدريسي پوهنځي طب و دندان مراجعه نمايند

پته :
پيښور - پاكستان
P.O.BOX---- 467